# دافغانستان اسلامي امارت

# ستره محکمه

## دفیصلیې دلیکلو تعلیمات نامه

## رأس الـورقه :

(۱) فیصله به دامارت په رسمې ورقه لیکل کېږي .

(۲) دمحکمې تعین به کوي چې دکوم ولایت دولسوالی محکمه یادیوان دی،ملکي یانظامي ده،ابتدائیه،یامرافعه ،یاتمیزدی

(۳) دصدورتاریخ به په خپل ځای کي مرتب په هجري قمري ( اول ورځ ،بیامیاشت اوبیا کال ) لیکي .

(۴) دفیصلي دهري صفحې تعېن به کوي اوهم به دمجموعه اوراقو شمېر لیکي .

(۵) دفیصلې عمومې اوخصوصې نمبربه داسې ع ۱۲ / خ ۴ لیکي ،همدارنګه عنوان دفیصلې چې غصب ده ،سرقه ده وغیره اوهره ورقه به په مهر اوامضاء سره نښاني کېږي .

## دستون دتعـرفه اشخاص متـعلق مواد :

(۶) دمدعې سره بالاصاله ،بالوکالة ، بالولایة اوبالوصایة ذکرکول ضرورې دی .

(۷) دمدعې شهرت مکمله (نوم ،ولد ،ولدیت ) سکونت اصلې اوفعلې ولایت ،ولسوالي ،کلی یاناحیه به ذکرکوي.

(۸) دمدعې قوم ، کسب ، تابعیت به ذکرکوي اودتذکیري نمبربه لیکي .

(۹) دمدعی علیه سره لفظ دبالاصالة ،بالوکالة، بالولایة اوبالوصایه ذکرکول ضروري دي .

(۱۰) دمدعی علیه شهرت مکمله ،سکونت اصلي اوفعلي ،قوم ،کسب اوتابعیت اودتذکیري نمبرذکرکول ضروري دی .

(۱۱) دمعرفت دشاهدانو شهرت مکمله سکونت اصلي اوفعلي به ذکرکوي .

(۱۲) دمعرفت دشاهدانو اهلیت اودشاهدی الفاظ به ذکر کوي اودهرشاهد دګوتي لګولو سره به دهغه نوم هم لیکي.

## دستون دتعـرفه اشخاص متـعلق مواد :

(۱۳) دمدعي اومدعی علیه سره بالاصالة ،بالوکالة ،بالوصایة بالولایة ذکرکول ضروري دی .

(۱۴) دمدعي اومدعی علیه شهرت مکمله ،سکونت اصلي اوفعلي مثلاولایت ولسوالي کلی یاناحیه ذکرکول ضروري دی یابه مذکور په ستون تعرفه اشخاص سره اشاره ورته کوي.

(۱۵) دمدعی به تعین به په شرعي طریقه سره کوي که منقول وي که غیرمنقول وي مثلاً که یوه قطعه ځمکه وي موقعیت به یې ذکرکوي دعام څخه ترخاص مثلا دغزني ولایت دواغزولسولي دمیدادبابا کلي په غربي طرف کي موقعیت لري .

(۱۶) دځمکي صفت به بیانوي چي مزروعه که غیرمزروعه آبې یاللمې (دیمه ) باغ اوکه غیره ده .

(۱۷) حدوداربعه اوحدفاصل به ذکرکوي په داسي ترتیب :شرقا ،غربا ،شمالاوجنوبا همدارنګه :دقتل په دعوی کي دمقتل موقعیت اوحدود اربعه به ذکرکوي .

(۱۸) که طرفونه دنوروخلګووي نوداصحاب الحدودشهرت مکمله به ذکرکوي اونسبت دملکیت به اصحاب الحدودوته کوي .

(۱۹) که کوم طرف ته غیرمملوکه ځمکه وي مثلا عامه یاخاصه لاره ،سړک ،لښتی ،وياله ،سیند وغیره نوبیا دعام اوخاص ذکرکول کفایت کوي البته که فواصل ذکرشي ښه ده .

(۲۰) سبب دحکم ذکرکول چي مثلا شاهدان ،اقراراوغیره .

(۲۱) دفیصلي خلاصه اومحکوم له ذکرکول چي فیصله دچاپه ګټه وشوه ،

## دستون تشریحات متعلق مواد :

(۲۲) تاریخ ورودذکرکول ضروردي یعني په کوم تاریخ چي مدعي محکمي ته خپله عریضه راوړه .

(۲۳) دالیکل هم مناسب دي چي مدعي مستقیمامحکمي ته عریضه وکړه یاداچي دمربوطه مرجع له خوا دمکتوب په توسط موضوع محکمي ته راجع شوي ده .

(۲۴) دخپلي محکمي ذکراووضاحت به کوي چي دفلان ولایت ،ولسوالي ،ابتدائیه شرعي محکمي ته مثلا .

(۲۵) دمدعي اومدعی علیه بالاصاله یابالوکاله یابالولایة یابالوصایه اوشهرت مکمله به لیکي یابه داسي لیکي چي مدعي یامدعی علیه چي مذکور په ستون تعریفه اشخاص کي دي .

(۲۶) دمدعي اومدعی علیه اهلیت تامه به لیکي

(۲۷) که مدعي یامدعی علیه وکیل وي دوکالت خط عمومي اوخصوصي نمبر تاریخ دترتیب دوکالت خط اوتعین دهغه محکمې چي وکالت خط پکي جوړشوی وي اوتعین دوکالت خط چي بالاقرار یابالشهود دی به لیکې .

(۲۸) دموکل یاموکلینوشهرت مکمله موقعیت اصلي اوفعلي اهلیت تامه قوم کسب اوتابعیت ذکر کول ضروري دي .

(۲۹) دوکالت په صورت کي تعین دخصوص ددعوی ضروري ده .

(۳۰) په وکالت کي داتعین ضروري ده چي مذکور وکالت مقیددی مثلا وکالت بالخصومت دی ،یامطلق دی مثلاپه خصومت ،صلح ،اقرار ،ابراء ټولوکي ده .

(۳۱) په وکالت کي داوضاحت ضروري دی چي وکالت په همدغه یوه محکمه پوري خاص دی که ترمحاکموثلاثه پوري دی

(۳۲) که مدعي یامدعی علیه اصیل وي نسبت دملکیت به ځان ته کوي اوکه وکیل ،وصي ، یاولي وي نسبت به خپل مؤکل ،موصی له یامولی له ته کوي.

(۳۳) دمدعی بها تعین په شرعي طريقه سره منقول وي که غير منقول صراحة يا حوالة مذکور په موضوع وتحديدآن باندي ضروري دی مثلاً که ځمکه وي موقعيت يې ذکرکول اوداوضاحت کول چي سره دلواحقويابغيردلواحقوده

(۳۴) ددعوې تعين به کوي چي دملک مطلق اوکه دملک بالسبب دعوی ده .

(۳۵) بيا به محکمه داسي ليکي چي دمدعي څخه صورت دعوی طلب شوه اووخت مثلاً لس ورځي ورکړل شو .

(۳۶) بيا به ليکي چي مثلاً مدعي په ټاکلي وخت خپله صورت دعوی راوړه صحيح وه په عام اوخاص شرائطوددعوی مشتمله وه.

(۳۷) اوپه فيصله کي به ليکي چي وروسته له صحت ددعوی دمدعي ليکلي صورة دعوی دمحکمي لخواپه محضردقضاء په حضورددوه نفره شاهدانوکي پرمدعي عرض شوه اومدعي دګوتي په لګولو سره دخپلي ليکلي صورة دعوی تصديق په حضور ددوه نفره شاهدانو فلان اوفلان کي وکړی .

(۳۸) بيابه ليکي چي مدعی عليه ته جلب وليږل شو ، البته جلب پاڼه بايد په اصولوبرابره وي دجلب پاڼي ټول شرائط پکي مراعت شوي وي تردغه وروسته به دملک مطلق په صورت کي اثبات دذواليدي په شاهدانو سره کوي او دملک بالسبب په صورت کي تصادق دجانبينو کفايت کوي.

(۳۹) تردغه وروسته چي کله مدعی عليه حاضرسو ، که مدعي خپله صورت دعوی پخپله ويلای سوه خپله به يې په مجلس دقضاء په حضوردخصم (مدعی عليه ) کي پرمدعی عليه عرض او اقامه کړي داشاري په ځايونوکي به اشاره مدعی عليه اومدعي به ته کوي اوهغه مدعی به چي ممکن الاحضاروي دصورت دعوی دعرض په وخت کي به يې په محکمه کي حاضروي اواشاره به ورته کوي، البته که صورت الدعوی مدعي نشوای ويلای دمدعي ، مدعی عليه اوشاهدانوپه حضورکي به يې قاضي لولي مدعي به يې تصديق کوي

(۴۰) تردغه وروسته به ليکي چي صورت دعوی يا خلاصه دصورت دعوی داده اوصورت دعوی يا خلاصه به په فيصله کي دمدعي دوضاحت سره سم ذکرکوي دخلاصي په صورت کي به ليکي چي صورت دعوی چي پردومره اوراقو مشتمله ده اوهره ورقه دمحکمي لخوامهرشوي دفيصلي داوراقوضميمه ده .

(۴۱) اوپه فيصله کي به ليکي چي دمدعی عليه ليکلی جواب (دفع دعوی) دمحکمې لخواپه محضردقضاء په حضورددوه نفره شاهدانوکي پرمدعی عليه عرض شوه اومدعی عليه دګوتي په لګولو سره دخپلي ليکلي جواب (دفع دعوی) تصديق په حضور ددوه نفره شاهدانو فلان اوفلان کي وکړی .

(۴۲) بيابه مدعي بالدفع خپل جواب (صورت دفع )په مجلس دقضاءپه حضوردخصم کي اقامه کړي داشاري په ځايونوکي به اشاره کوي تردغه وروسته به ليکي چي جواب (دفع دعوی )يا خلاصه دجواب (دفع دعوي) داده او (دفع دعوی)جواب يا خلاصه به په فيصله کي دمدعی عليه دوضاحت سره سم ذکرکوي دخلاصي په صورت کي به ليکي چي جواب (دفع دعوی)پردومره اوراقو مشتمله ده اوهره ورقه دمحکمي لخوامهر شوي دفيصلي داوراقوضميمه ده :البته په بسطواومستعجله دعووکي دي د(۴۲، ۵۵، ۱۳۱، ۱۳۵) مواد داداري اصولنامي په نظرکې ونيول شي

(۴۳) بيابه ليکي چي په فلان تاريخ مدعی عليه حاضرشو او په مجلس دقضاء په حضوردمدعي اوشاهدانوکي دمدعی عليه دفع پرمدعي مذکورهذاعرض کړل شوه نوکه يې دفع صحيحه وه اوثابته يې کړه نوپه دغه صورت کي مدعی عليه مدعي اومدعي مدعی عليه ګرځي

(۴۴) که چيرته دفع صحيح نه وه محکمه به دعدم صحت دلائل په فيصله کي ليکي

(۴۵) او که يي دفع ثابته نکړه او حال دا چي دفع يي متضمن اقرارلره نه وي نود مدعي دعوی معاد کيږي قاضي به د مدعي څخه دخپلي دعوې داثبات لپاره مثبته بينه وغواړي.

(۴۶) اوکه مدعی عليه دمدعي په دعوی اقراروکړي ،داقرارصورت به يي له زيادت او نقصان څخه پرته کټ مټ ليکي.

(۴۷) اوپه فيصله کي به ليکي چې دمدعی عليه اقراردمحکمي لخوا په محضردقضاء په حضورددوه نفره شاهدانوفلان اوفلان کي پرمدعی عليه عرض کړی شواومدعی عليه دګوتي په لګولوسره دخپلي ليکلي اقرار تصديق په حضور ددوه نفره شاهدانو فلان اوفلان کي وکړی .

(۴۸) که مدعی عليه انکاروکړقاضي به صورت دانکار هوبهو وليکي البته د(۴۱)مادي هدايت دي په نظرکي لري اود مدعي څخه به د اثبات لپاره مثبته بينه وغواړي اودا به ليکي چي دمدعی عليه له انکار څخه وروسته له مدعي څخه داثبات ددعوی شاهدان طلب شول

(۴۹) که يي شاهدان راوستل محکمه به دمدعي دشاهدانو دراوستلوجريان ،شهرت مکمله ،اهليت ، صفات ،کسب اوعمر وليکي .

(۵۰)اوپه فيصله کي به ليکي چي وروسته له اداء دشهادت على التعاقب والانفراددشاهدانو ليکلي شاهدي دمحکمې لخواپه محضردقضاء په حضورددوه نفره شاهدانوکي پرهرشاهد عرض شوه اوهرشاهد دګوتې په لګولوسره دخپلې ليکلي شاهدي تصديق په حضور ددوه نفره شاهدانو فلان اوفلان کي وکړی .

(۵۱) دشاهدانو دشاهدۍ الفاظ به ټکي په ټکي په فيصله کي وليکي .

(۵۲ ) شاهدان بايد دمدعی بها ځمکي موقعيت اوحدود بيان کړي ، ذکرداصحاب الحدود سره دشهرت مکمله وکړي اوهم بايد نسبت دملکيت واصحاب الحدودو ته وکوي اوهم يې فواصل ذکرکړي .

(۵۳ ) محکمه به ليکي چي شاهدي په مجلس دقضاءکي په حضور دخصمينوکي اداء شوه

( ۵۴ ) شاهدان به په شاهدي کي مدعي اومدعی عليه اومدعی به ته ( دممکن الاحضارپه صورت کي ) په دغه يا (هذا) سره اشاره کوي

(۵۵ ) اودا به ليکي چي دشاهدانوشهادت دمدعي له دعوی سره موافقت درلودی يانه اوکه نه وودعدمي موافقي اورد وجه به يې ليکي .

(۵۶ ) شاهدي به دمعاينې وي نده سماع ، ځکه دسماع شاهدي په څوخاصوځايونوکي معتبره ده چي دفقهي په کتابونوکي ذکردی .

(۵۷ ) قاضي به دهرشاهد دشاهدۍ داداءکولووروسته مشهود عليه ته دجرحې موقع ورکوي که مشهود عليه جرحه مرکبه وکړه اوپه شاهدانويې ثابته کړه نوشاهدي له منځ وړي البته دجرحي مرکبې اودهغې داثبات طريقه به ليکي .

( ۵۸ ) که جرح يې نه درلوده يامجرده وه يايې ثابته نه کړه نوقاضي صاحب به دشاهدانو سري اوعلني تزکيه وکړي ، البته دجرحي مجردي په صورت کي به هغه جرح نويشته کوي اودمجرد والي دليل به يې وايې

(۵۹) که تزکيه يې وشوه اوشاهدي يې قبوله شوه بيابه دغه ټول جريان وليکي چي سري تزکيه دفلان نمبرمکتوب په توسط وشوه اوعلني تزکيه دفلان اوفلان مزکينولخواپه مجلس دقضاکي په حضور دشاهدانو اوطرفينوکي وشوه .

(۶۰) بیابه قاضي صاحب ولیکي چي وروسته ترشاهدي اداکولو اوورسته ترتزکیې سري اوعلني ماقاضي له مفتي صاحب څخه فتوی وغوښته مفتي صاحب په دغه تاریخ په دغه نمبر دغه سي فتوی راکړه .

(۶۱) که مدعي له شاهدانو څخه خپل عجز په تحریري شکل ښکاره کړي ،نوبه مدعي ته ووایې ته دمدعي علیه دیمین حق لري . نوبعد المطالبه به قاضي مدعی علیه ته یمین ورکوي البته :دیمین نوع او الفاظ به په فیصله کي ذکرکوي .

(۶۲) بیابه دمفتي صاحب فتوی اودلائل ولیکي .

(۶۳) بیابه قاضي صاحب نص الحکم ولیکي .

## دنـــــــص الحـــــــــــــــــکم متعـــــــــــــلق مواد :

(۶۴ ) په نص الحکم کي به اول قاضـي خپل شـهرت مکمله ولیکي بیابه داولیکي چي داسـلامي امارت له طرفه دفلان محکمي برحاله قاضي مأذون بالحکم غیرمعزول یم په مجلس دقضاءاوپه حضورحقیقي یاحکمي دطرفینوکې په فلان وخت اوفلان محل کي مي حکم وکړی په قضـاء دترک یا قضـاءدالزام سـره اوهغه مدعی به که ممکن الاحضـاروي دحکم دابلاغ په وخت کي به په محکمه کي حاضروي اواشاره به ورته کوي .

(۶۵) قاضي صاحب به الفاظ دقضیت اوحکمت په خپله فیصله کي لیکي اوکه یې دقاضي سره رئیس هم درلوودی بیابه قضینا اوحکمنا لیکي اوحکم به په قطعي الفاظوسره لیکي . نه دحکایت اوشک په الفاظو .

(۶۶)دوکالت په صورت کي به قاضي داسي لیکي حکم مي وکړی ستاپرموکل فلان ولد فلان ولدیت فلان یاستادموکل فلان ولدفلان ولدیت فلان لپاره په حضورکي ستاوکیل هذا کي .

( ۶۷ ) دحکم داستیناد لپاره به فقهې جزئیات یادلائحي اواصولنامي موادذکرکوي کله چي فیصله ولیکل شې نوقاضي صاحب رئیس صـاحب به هریوخپل دسـخطونه پروکړي اودمحکمي رسـمي مهر به وربانديولګوي ،مفتي صـاحب اومحررصـاحب به فیصله دسخطونه نکوي .

## دفیـــــــــــــصلي دابـــــــــــــــــلاغ متعـــــــــــــلق مواد :

(۶۸) قاضي صاحب به خپله فیصله په مجلس دقضاءکي په حضوردطرفینواوپه حضودشاهدانودابلاغ کي ابلاغ وي .

(۶۹) دابلاغ دشاهدانوشهرت مکمله اهلیت اوتاریخ دابلاغ به په مستقله ابلاغ پاڼه کي ولیکي .

(۷۰) قاضي به ترابلاغ وروسته جانبینوته ووایې چي پرفیصله قناعت لري یانلري هریوبه دخپل قناعت یاعدم قناعت تصدیق وکړي اوګوته به ورولګوي دمرافعه طلبي اوتمیزطلبي موده به ورته واضح کړي .

(۷۱)دفیصـلي اصـلي ورقي به محکوم له ته ورکړي یوه کافي به محکوم علیه ته ورکړي اویواصـل به محکمه په خپل دفترکي محفوظ کړي

( ۷۲ ) کوم طرف که مرافعه یاتمیزغواړي هغه ته به دمرافعه یاتمیزپه عنوان مکتوب ورکړي په مکتوب کي به دموضـوع اجمالي ذکر وکړي مثلادمدعي فلان اومدعی علیه فلان ترمنځ دفلان شـي دعوی وه موږدفلان په حق کي فیصـله وکړه فلان جانب غیرقانع ده لهذا دوسـیه چي مثلاشـل ورقي دی دهمدغه مکتوب ضـمیمه دبعدي اجراآتولپاره سـتاسـومحترم مقام ته درولیږل شوه .

( ۷۳ ) په فيصله کي بايد دعريضي خلاصه هم درج شي .

(۷۴ ) کله چي تحقيقات دطرفينو پای ته ورسيدل اوطرفينو وويل :نور څه نه لرو ،نوهغه وخت به دوی پوهوي چي محاکمه پای ته ورسيده

(۷۵ ) که په يوه موضوع کي له اهل خبره وو څخه معلومات غوښتل شوي وي قاضي به فيصله کي ليکې .

( ۷۶ ) که لوړومحاکموټيټو محکموته فيصله دنقصاناتو له کبله راجع کوله ټول نقصانات به يو په يو ورته په ګوته کوي .

( ۷۷ ) منقوضه فيصله چي دټيټومحکمو له لوري اصلاح شوي وي دابه ليکي چي ترنقض وروسته اصلاح شوي دوهمه فيصله ده .

(۷۸ ) داصلاح شوي فيصلي اومنقوضه فيصلي تاريخونه اونمبربه جلا جلا وي .

( ۷۹ ) لوړي محکمي که ترنقض وروسته تائيد ددوهمي اصلاحي فيصلي ترسره کاوو نوبه داسي ليکي تراصلاح وروسته تائيد شوه .

(۸۰) که دتميز له خوا څخه دټيټومحکموپرفيصلونقضونه شوي وو ټيټي محکمي به داصلاح په صورت کي دتميز نقضونه هو بهو ليکي .

(۸۱) کله چي ټيټي محکمي ولوړومحکموته دوسيه ليږي بايد چي دادوسيه جدول واره مرتبه وليږي له عريضي څخه بياترابلاغ پارچې اوپرهره ورقه بايد دمحکمي ټاپه لګيدلې اونمبرباندي وهل شوي وي